# پښتو ژبه او عالمګیریت
# (امکانات او خدشات)

## Pashto Language and Globalization; Hopes and Despairs

ډاکټر جاوېد اقبال*

**Abstract:**

Anthropologists have acknowledged the significance of Language in the construction, promotion and growth of cultures. The leading tides of capitalist globalization has created a chaos at global level that has degenerated the local cultures with its unprecedented economic, educational and cultural agendas. In this paper, the scholar has strived to analyze the possibilities of promotion and growth of Pashto language in the peculiar global scenario.

د بشر پوهنې (Anthropology) ماهرين او دانشور په دې رائې متفق دي چې د کلتور (Culture) په بنيادي عناصرو کښې ژبه د ټولو نه مؤثره او بنيادي حواله جوړېدی شي، هم د ژبې په ذريعه د ټولنې او وګړو د کلتوري پېژندګلو بنيادي رېښې مخې ته راتلی شي ځکه په هر دور کښې د مختلفو ټولنو او وګړو په کلتوري منظرنامه کښې د ژبې اهميت ته ډېره توجه کولی شي، د دغه اهميت او توجه په نتيجه کښې عموماً دا پوښتنه هم سر پورته کوي چې په کلتوري منظرنامه کښې د ژبې بقا څنګه ممکن کېدی شي؟. د ژبې بقا ته کومې ستونځې پېښېدی شي او د خپل دور مخصوصې ټولنې کلتوري منظرنامه د يوې ژبې په روزنه کښې څۀ کردار لوبولی شي.

دا پوښتنه په موجوده کلتوري منظرنامه کښې هم د مختلفو ژبو په حواله مخې ته راتلی شي چې په کښې پښتون کلتور او پښتو ژبه هم زمونږ په نظر کښې دي او په هم دغه حواله په موجوده کلتوري منظرنامه کښې د پښتو ژبې د بقا په لړ کښې ځنې امکانات او خدشات د بحث موضوع جوړېدی شي چې دلته يې جائزه اخلو.

---

* Assistant Professor, Department of Pashto UoB Quetta

زمونږ د بحث اصل موضوع چونکې په موجوده کلتوري منظرنامه کښې د پښتون کلتور او پښتو ژبې بقا ده او په دې موضوع کښې هم بنيادي پوښتنه دا ده چې پښتو ژبه او پښتون کلتور د بقا امکان هم لري او که نۀ؟. او که د بقا امکان يې کم وي نو هغه کوم خدشات دي چې پښتو ژبې او پښتون کلتور ته يې ستونځې پيدا کړې دي؟ دغو بنيادي پوښتنو ته جواب ورکولو نه وړاندې دا ضروري ده چې مونږ د کلتور تعريف وکړو او بيا د کلتور مجموعي تعريف په رڼا کښې د پښتون کلتور په حقله هم خبرې وکړو. د دې هرڅۀ نه پس مونږ دې مرحلې ته را رسېدلی شو چې ايا پښتون کلتور او پښتو ژبې بقا ته کومې ستونځې پېښې دي او که نۀ د پښتون کلتور بقا روښانه امکانات لري، دا هرڅۀ د بحث موضوع ځکه ګرځېدلي دي چې د نړۍ موجوده سياسي او سماجي منظرنامه په ډېره تېزۍ سره خپل شکلونه بدلوي او دغه بدلون سره د کلتور د بقا پوښتنې هم مخې ته راځي. نو راځئ چې وړومبی د کلتور وضاحت وکړو او بيا د پښتون کلتور په حقله هم څۀ ووايو او دغسې خپلې بنيادي پوښتنې ته د جواب وئيلو هڅه وکړو.

## کلتور څۀ شی دی؟

د کلتور دپاره په انګرېزي کښې د کلچر (Culture) توری استعمالېږي، د کلچر دپاره ځنې نور متناسب اصطلاحات هم استعمال کښې راځي چې په فارسۍ او عربۍ ژبو کښې يې جرړې ښخې دي لکه د مثال په توګه تهذيب، تمدن، ثقافت او د انګرېزۍ ژبې (Civilization) په دغو تورو کښې عموماً د کلچر او سيويلائزېشن (Culture and Civilization) توري عموماً د نزدې نزدې مفاهيمو دپاره استعمالېږي. مونږ چې د کلچر تعريف کوو نو بايد چې دغه ټول توري مو په نظر کښې وي. د انګرېزۍ، عربۍ او فارسۍ د دغو متعلقه اصطلاحاتو په بنياد ډاکټر جميل جالبي په خپل کتاب کښې د کلچر وضاحت کړی دی او د دغو ټولو اصطلاحاتو تجزيه يې په داسې انداز کړې ده چې د تهذيب او ثقافت يا تمدن او کلتور وضاحت ترې کيږي، هغه ليکي:

*"کلچر کے سلسلے میں اب ہمارے ہاں دو لفظ استعمال ہوتے رہتے ہیں ان میں سے ایک لفظ تہذیب ہے اور دوسرا ثقافت تہذیب کا لفظ صدیوں سے نہ صرف ہماری زبان بلکہ عربی اور فارسی*

*میں بھی مستعمل ہے... لفظ تہذیب کا زور خارجی چیزوں اور طرزِ عمل کے اس اظہار پر ہے جن میں خوش اخلاقی، اطوار، گفتار اور کردار شامل ہیں اور لفظ ثقافت کا زور ذہنی صفات پر ہے جن میں علوم وفنون میں مہارت حاصل کرنا اور ترقی دینے کے صفات ہیں، میں نے لفظ تہذیب اور ثقافت کے معانی یکجا کرکے ان کے لئے ایک لفظ کلچر استعال کیا ہے جن میں تہذیب اور ثقافت دونوں کے مفہوم شامل ہیں، اس کے معانی یہ ہوئے کہ کلچر ایک ایسا لفظ ہے جو زندگی کی ساری سرگرمیوں کا خواہ وہ ذہنی ہو یا مادی، خارجی ہو یا داخلی، احاطہ کرلیتا ہے"(1).*

د ډاکټر جمیل جالبي د دغه بیان او تجزئې نه دا تاثر را ولاړیږي چې تهذیب و ثقافت یا تمدن او کلتور خپلو کښې د معنٰی او مفهوم تر مخه فرق لري او دا فرق په اسانه ټکو کښې دا دی چې کلتور د یوې ټولنې او وګړو د علم او دانش، شعور، سوچ، فکر او دانشورانه خیالاتو نه زیږیدلي د ژوند تصور او طور طریقو ته وئیلی شي او تهذیب و تمدن د هم دغه شعوري او فکري دانش مادي اظهار ته وئیلی شي، د دغه باریك فرق نه پس مونږ چې د ټولنې او وګړو کومو ځانګړو خصوصیاتو ته اشاره کوو نو دا په بنیادي توګه د کلتور اجزاء دي او دغې ته مونږ د کلتور تعریف وئیلی شو چې دلته یې مونږ د انسائیکلوپیډیا بریټانیکا په حواله مجموعي مفهوم پېش کوو، په دغه ذکر شوې انسائیکلوپیډیا کښې د کلتور دغه مجموعي مفهوم داسې بیان شوی دی:

"Culture may be defined as behaviour peculiar to Homo spiens, together with material object used as an integral part of this behaviour, specifically culture consists of language, idieas, beliefs, customs, code, institution, tools, techneques, works of art, rituals, ceremonies, and so on the existence and use of culture depends upon an ability possessed by man alone" (2)

ترجمه: (کلتور د بشر هغه ځانګړې روئې او هغو مادي څیزونو ته وئیلی کیږي کوم چې د دې روئې سره تړلي دي، کلتور په ځانګړي ډول ژبې، مفکورو، عقیدو، رواجونو، ادارو، اوزارونو، دودونو وغیره مشتمل وي، د کلتور پائښت او په کار راوستنه د بشر په ځانګړي استعداد اډانه وي).

## پښتون کلچر

د پښتون کلتور دپاره په مجموعي توګه د پښتو یا پښتونولۍ جامع اصطلاح استعمالولی شي چې پښتنه ټولنه کښې د مېشته وګړو د ژوند مکمله ضابطه په

کښې بیانولی شي او هم دغه په اصلي معنو کښې پښتون کلتور دی چې پښتانهٔ یې د پښتونولۍ په نوم یادوي. البته دا وضاحت ضروري دی چې پښتونولي عموماً د پښتنو د فکري دانش، سوچ او روئیو ترجماني کوي خو دې نه علاوه چې د پښتون اولس کوم مادي ثقافت دی لکه لباس، خوراك، کالي پټري، لوبې او نور د کلتور مخصوص شکلونه، د کلتور دغه اړخ هم په حقیقت کښې د پښتنو د فکري دانش او شعور مادي اظهار دی چې د کلتور برخه ده، محمد مدني عباس د پښتو، پښتونولۍ او پښتون کلتور وضاحت په دې ټکو کوي:

*"پشتون ایک قدیم قوم ہے جس کا اپنا ایک الگ ضابطہ حیات ہے جسے ان کی اصطلاح میں پختون ولی یا پشتون ولی کہتے ہیں، یہ ضابطہ حیات غیر منضبط ہے لیکن سالہا سال سے نسلاً بعد نسل سینہ بہ سینہ چلا آرہا ہے، اور پشتونوں کو انکی انفرادیت اور قومیت کے قیام و فروغ میں مدد دے رہا ہے پشتون فطرتاً اپنے قومی رسم و رواج کا پابند ہوتا ہے وہ اپنے بزرگوں کی روایات کو ترک نہیں کرتا یہ روایات اسکی زندگی کے ہر شعبے پر اثر انداز ہوتی ہیں نیز اسکی زبان اور ادب پر بھی گہرا اثر ہے"(3).*

## امکانات او خدشات

په وړاندې بحث کښې د کلتور د مجموعي مفهوم سره سره د پښتون کلتور په حقله هم وضاحتونه وشول اوس د دغه وضاحتونو په رڼا کښې ګورو چې په موجوده کلتوري منظرنامه کښې د پښتون د کلتور بقا او د پښتو ژبې د بقا صورت حال څهٔ دی؟ امکانات یې څهٔ دي او خدشات یې څهٔ دي؟.

کله چې مونږ د موجوده سماجي منظرنامې خبره کوو نو ورسره هغه بدلېدونکی صورت حال او د ټولنې بد لېدونکي اقدار هم زمونږ مخې ته راځي کوم چې د موجوده نړیوال کلي (Global village) په وجه شکلونه بدلوي. نن سبا د ګلوبلائزېشن بحثونه په تېزۍ سره روان دي او ورسره د الیکټرانك مېډیا د اثراتو خبرې هم کیږي. دې کښې هیڅ شك نشته چې دغه ګلوبلائزېشن او الیکټرانك مېډیا یو خوا که ډېر د ګټې کارونه کړي دي، د انسان په ژوند کښې یې ډېرې اسانۍ پیدا کړې دي او په مجموعي شکل یې انسانان یو بل ته ډېر نزدې کړي دي، نو ورسره دې نه هم انکار نهٔ شي کېدی چې د ګلوبل وېلیج دغه

نوي شکل او د الیکټرانك میډیا دغه یلغار د اولسونو او ټولنو ځنې بنیادي او اصلي (Orginal) اقدارو ته زیان هم رسولی دی. او د نړۍ د ګڼو ژبو، کلتورونو او اولسونو اقدارو ته د زیان رسولو سره سره پښتون اولس، پښتو ژبه او کلتور هم له دغه خدشې سره مخ دی. ښاغلي ادریس اثر صحیح لیکلي دي چې:

"National cultural identity are at danger zone due to globlization and hence the languages, especially of those who are economically weakl and relatively more dependent than the others. In this hustle bustle, Pakhto which is not only a language but a powerful carrier of cultural values is also faced with gigantic challenges"(4)

ترجمه: «زمونږ قومي او ثقافتي شناخت د ګلوبلائزېشن په وجه د خطراتو سره مخ دی تر څو پورې چې د ژبو تعلق دی نو خصوصاً هغه ژبې چې د نورو ژبو په مقابل کښې په معاشي لحاظ کمزورې دي، ته هم دغه خطرات ورپېښ دي. په دغه اړي ګړي کښې پښتو هم چې نۀ صرف یوه ژبه ده بلکې تر شا یې د کلتوري اقدارو یو مضبوط روایت موجود دی هم دغو غټو خدشاتو سره مخ ده».

د نوې سماجي منظرنامې په دې هنداره کښې مونږ ته د نړۍ د ژبو مستقبل هم په خطره کښې ښکاري او د پښتو ژبې مستقبل هم له دغه خدشې سره مخ دی، هرکله چې د یو قوم او اولس ژبې ته خطرې او خدشې را پېښې وي نو ورسره د هغه قوم او اولس نور کلتوري اقدار هم د خدشاتو ښکار کیږي، ځکه چې د اولسونو د اقدارو روح د اولسونو په اجتماعي شعور، پوهه او دانش کښې وي او د دغه اجتماعي شعور، پوهې او دانش د اظهار وسیله ژبه وي ځکه مونږ وئیلی شو چې د کلتوري اقدارو صحیح ترجماني ژبه کوي او هم په دغه بنیاد ژبه نۀ یوازې د یو اولس د کلتور بنیادي جز وي بلکې د کلتوري اقدارو ائینه هم وي. په دې باب زۀ د نومیالي دانشور ډاکټر عباس نیئر رائې پېش کوم چې زما د پورتنیو خبرو مرسته کوي. د ډاکټر عباس رائې په دې ډول ده:

*"گلوبلائزیشن نے مختلف زبانوں کو مختلف طرح سے متاثر کیا ہے. گلوبلائزیشن صارفیت کے عمل کو بے روک ٹوک جاری رکھنے کی غرض سے ثقافتی یکسانیت چاہتی ہے... دنیا کی چھ ہزار زبانوں میں سے پانچ ہزار زبانوں کو ختم ہونے کا خطرہ لاحق ہے اور یہ سب گلوبلائزیشن کا کیا دھرا ہے..... زبان کے ختم ہونے سے ایک پوری ثقافت ختم ہو جاتی ہے. زبان ثقافت کو محفوظ ہی نہیں کرتی، ثقافت کو تشکیل بھی دیتی ہے"(5).*

اوس چې مونږ د کلتوري اقدارو د بنیاد په حواله د ژبې په اهمیت پوهه شوو نو راځئ چې په موجوده سماجي منظرنامه کښې د پښتو ژبې د بقا او ورسره کلتوري بقا ته د پېښو خدشاتو نه هم ځان خبر کړو. مونږ دلته وړومبی د ډاکټر سهېل انشاء یوه مجموعي رائې وړاندې کوو چې په کښې ئې ډېر په وضاحت سره د ګلوبلائزېشن او الیکټرانك مېډیا په ژبه او کلتور د اثراتو جاج اخستی دی، هغه د ګلوبلائزېشن د اقتصادي زاوئې سره سره د ثقافتي او کلتوري اړخ جائزه هم اخستې ده او لیکلي یې دي چې:

"د 9/11 د واقعاتو په تناظر کښې یو بل ګلوبلائزېشن هم په وجود کښې راغلو او دا ؤ جارحانه عالمګیریت (Militarist Globalisation) د عالمګیریت وړومبني دوه شکلونه خو نن سبا حالاتو کښې بغېر د څۀ مزاحمت نه را روان وو خو اوس دې جارحانه شکل یې هغه قومونه هم خپل ګرفت کښې واخستل کوم چې د خپلې پسماندګۍ په وجه نۀ بېدارېدل. د دې جارحانه عالمګیریت منفي اړخ دا دی چې دا د یو ثقافت مثبت او منفي دواړو اثراتو زائل کولو کوشش کوي.... په دې سوچ په کار دی چې داسې حالاتو کښې به د لویو طاقتونو او تهذیبونو په مخکښې واړۀ تهذیبونه څنګه پاتې شي؟ هغه هله چې یا خو ته د ترقۍ معراج ته رسېدلی یې او یا د نوې زمانې سره ځان کښې موزونیت (Adoptation) پیدا کړې"(6).

ډاکټر سهېل انشاء په خپله دغه مقاله کښې د موجوده سماجي منظرنامې منفي اړخونه خو په ډېر وضاحت سره ښودلي دي او پښتو ژبې، ادب او کلتوري اقدارو ته را پېښو ستونځو ته یې اشارې کړې دي خو ورسره یې د دغو خدشاتو د ازالې په توګه څنې مثبت تجویزونه هم ورکړي دي چې مونږ یې په موجوده سماجي منظرنامه کښې د پښتون کلتور د بقاء دپاره د روښانه امکاناتو په زمره کښې شاملولی شو هغه لیکي:

"دا ټول بحث که را لنډوو نو اول خبره داسې ده چې دا مسئله سیاسي ده ولې ګراونډ ورك به ورته مونږه د هرې طبقې خلق کوو او دا مسئله صرف یو دوه درې سیاسي پارټیانو ته نۀ دي پرېښودل بلکې دې لړ کښې د پښتونخوا او بلوچستان صوبو ټولو سیاسي پارټیانو سره خبره په کار ده او ورته وئېل په کار دي چې ژبه زمونږه د ټولو شریکه ده او په دې مسئله کم از کم د ترېګنۍ سیاست نۀ دی په

کار... مونږه لاتراوسه پورې قبائلي او ماقبل قبائلي ژوند تېروو او د قوم په تعريف لا پوره نۀ يو. د ګلوبلائزېشن عمل به د لوکلائزېشن عمل ته تقويت ورکوي چې ورسره به زبردسته ترقي کيږي او ارتل پرتل قبيلې او خېلونه به يو ځای کولو کښې لوی لاس وکړي. دا به د پښتون قوم جوړېدنې ته ډېر تقويت ورکوي. که مونږه ورته ګراونډ ورك کړی وي او د خپل وس تر حده ژبه مو په هره سطحه متعارف کړې وي نو د قوم جوړېدلو عمل سره به ژبه هم په هر ميدان کښې ترقي مومي. دې سره به ژبه نۀ صرف محفوظه پاتې شي بلکې د ژبې ترقي به هم لازمه وګرځي"(7).

دلته زۀ يوه بله داسې رائې پېش کول غواړم چې زمونږ پښتون ليکوال افضل شوق وړاندې کړې ده او زمونږ د وړاندې پېش کړی شوې بنيادي رائې سره بېخي مخالفه ده، د افضل شوق خيال دا دی چې پښتون اولس له د خپل ثقافت، تاريخ او ماضي د کارنامو سره دومره پيوستون نۀ دی په کار چې هغه په دې مخ په وړاندې زمانه او موجوده سياسي او سماجي منظرنامه او د ګلو بل وېلېج او اليکټرانك ميډيا دور کښې د ترقۍ نه غافل شي او د سائنس او ټيکنالوجي د نوو ايجاداتو او تېز سفر نه فائده وا نۀ خلي. افضل شوق ليکي:

"که لږ په فکر ورته ځير شو نو دا به هم و سنجوو چې پښتون تش شا ته هم نه بلکې ډېر شا ته له نورو اقوامو څخه پاتې شوی دی. خو دلته زما او ستا په سندريز او قيصه ايز علاقائي ادب کښې لاهغسې د ادم خان او درخانۍ نکلونه دي چې نۀ دی په کښې د مينې تر ټاك اوښتلی شي او نۀ د خپلو برېتونو تر ړ په کښې ايستلی شي نو په دې خو دی پرېشانه ولاړ دی او يوې بلې خوا ته ګوري، نۀ پوهېږي چې څۀ وکړي او د چا وکړي؟ هو، دا هغه نننۍ الميه ده چې د نن په هره معنا پښتني، خو زنګ وهلی فکر ورته حاجت لري چې پرې ککريانې ستړې کړي خو څنګه؟. دا هغه سوال دی چې په ميدان کښې موجود زياتره نننی پښتانۀ شاعران او مفکران چې خورا اوچت نومونه هم لري يې جواب نۀ شي ورکولی چې د هغو مثال هم د هغو ديسي او لاسي يا نيم حکيمانو په رنګه خو پاتې شوی دی چې نبضونه ګوري لېکن تشخيص د مرضونو نۀ شي کولی"(8).

د افضل شوق دغه رائې هم د حقيقت نۀ لرې نۀ ده چې پښتون اولس د خپلې ژبې، ادب، ثقافت، ملي اقدارو او په ماضي کښې د مشاهيرو په کارنامو فخر

کولو سره د موجوده مخ په وړاندې روان دور او د جديدو غوښتنو سره اوږه په اوږه لاړ نۀ شي نو هم وروستو پاتې کيږي او د نړۍ ترقي يافته اولسونو سره څنګه په څنګ تللی هم نۀ شي.

مونږ که د پښتنو ليکوالو د دغو دوارو متضادو رايو تجزيه کوو نو دې نتيجې ته رسو چې په موجوده حالاتو کښې پښتون اولس ته يوه داسې لاره اختيارول په کار دي چې په مېنځ مېنځ کښې وي، هغه يو خوا د خپلو ملي اقدارو او کلتوري غوښتنو حفاظت هم وکړي او بل طرف ته د نړۍ د سيالو اولسونو په سفر کښې هم وروستو پاتې نۀ شي. دا سوال په وړومبي نظر کښې خو ډېر مشکل ښکاري خو داسې ناممکنه هيڅ کله هم نۀ ده، د دې مسئلې حل داسې راوتی شي چې مونږ هم دغه جديد ټېکنيك، اليکټرانك مېډيا، کمپيوټر، انټرنېټ او نورې ذريعې په داسې توګه استعمال کړو چې يو خوا ترې په سائينس او ټېکنالوجي کښې ګټه واخلو او بل خوا هم دغه جديدې ذريعې چې هسې خو زمونږ د کلتوري اقدارو دښمنې ښکاري خو مونږ يې د خپلو هم دغو اقدارو د تحفظ، خو رونې او بقا دپاره استعمال کړو. دې لړ کښې چې کوم تجويزونه پېش کېدی شي هغه په دې ډول دي:

(1) په نېټ د پښتو ژبې، ادب او کلتور، وېب پاڼې (Websites) چې څومره زياتې وي دومره به زمونږ دغه ملي او ثقافتي اقدار د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسي، دا وېب پاڼې نېغ په نېغه د پښتو ژبې هم کېدی شي او په انګرېزي يا نورو ژبو کښې هم.

(2) د هم دغې اليکټرانك مېډيا په ذريعه په خصوصي توګه د مختلفو وېب پاڼو په ذريعه که د پښتو لغات، مخصوص توري، لهجې او د ژبې سره تړلې نوره ذخيره محفوظ کړی شي نو يو خوا به دا ذخيره په اصلي شکل کښې د نړۍ نورو اولسونو ته ورسي او بل خوا به يې د اليکټرانك مېډيا په ذريعه تحفظ هم کيږي.

(3) په ټوله نړۍ کښې د ټي وي او ريډيو په چېنلونو کښې چې پښتو د نشرياتو ذريعه وګرځي او څومره چې دغه چېنلونه زياتيږي دومره به د پښتو اواز تر لرې لرې رسي. دې نه علاوه کوم چېنلونه که په پښتو کښې نۀ هم وي خو چې يوه برخه يې د پښتو نشريات لري نو هم به ورسره د پښتو ابلاغ کيږي. دغه شان به دغو چېنلونو کښې که پښتو کښې وي او که په نورو ژبو کښې چې د پښتون

کلتور د بنیادي اجزاوو یادونه او د هغې په اثراتو او عملي نتائجو بحثونه کیږي نو دغسې به دغه الېکټرانك مېډیا د پښتو ژبې او پښتون کلتور د بقا او ودې ذریعه ګرځي.

دغه الېکټرانك مېډیا زۀ د پښتون کلتور او پښتو ژبې په وده کښې د امکاناتو تر حده د یوې مؤثرې ذریعې په توګه ځکه یادوم چې که په موجوده سماجي منظرنامه او حالاتو کښې هم دغه الېکټرانك ذریعې خپل مؤثر کردار ادا کوي.

د الېکټرانك مېډیا نه علاوه د کلتوري اقدارو د بقا مسئله د وخت د سیاسي سرپرستۍ سره تړلې وي. دې لړ کښې لنډه خبره دا ده چې که په حکومتي سطح هغه اداري موجودې وي کومې چې د کلتوري اقدارو تحفظ کولی شي، نو په خپله به د دغو اقدارو بقا هم یقیني شي. مونږ که د پښتون کلتور د بقا په لړ کښې دغه سیاسي منظرنامې ته ګورو نو هرڅو که په حکومتي سطح ځنې اداري موجودې دي چې د پښتون کلتور د بقا مسئله ورسره تړلې ده لکه د مثال په توګه په مرکزي سطح د لوك ورثه اداره چې د ټول پاکستاني کلتور د ودې او بقا دپاره خپل کردار ادا کوي نو ورسره پښتون کلتور په خپله د پاکستاني کلتور برخه ده او د دغه اداري په دائره کښې راځي. دغه شان ځنې میوزیمونه لکه پېښور میوزیم، د پښتو اکېډمۍ میوزیم وغېره هم د پښتون کلتور د مادي فولکلور د تحفظ دپاره جوړ دي. دغه شان یو شمېر نوري ادبي او ثقافتي اداري هم دي، خو دلته هم دا پوښتنه را ولاړیږي چې ایا دغه اداري د پښتون کلتور د ودې دپاره کافي دي؟ او دوئمه پوښتنه دا مخې ته راځي چې دغه موجوده اداري هم خپل کردار په صحیح توګه ادا کوي که نۀ؟. زما په خیال د دې پوښتنو جواب هم ډېر تسلي بخش نۀ دی ځکه مونږ په سرکاري او حکومتي سطح د امکاناتو نه زیات د خدشاتو سره مخ یو، خو په مجموعي توګه مونږ بیا دا هم وئیلی شو چې دغو بدلېدونکو اقدارو، د زمانې رفتار، د الېکټرانك مېډیا یلغار، د ګلوبل وېلج اثراتو او د حکومتي او سیاسي نا امېدۍ باوجود د پښتون کلتور سره تړلو اقدارو کښې دا فرق خو راتلی شي چې شکل یې بدل شي او وظیفه یې بدله شي خو دا اطمینان په هر صورت موجود دی چې د پښتون کلتور شکل، هیئت او وظیفه چې هرڅۀ وي خو تر څو چې پښتون ژوندی وي تر هغې به پښتون کلتور او پښتو ژبه هم ژوندۍ وي او د هر قسمه طوفانونو او یلغارونو مقابله به کوي.

# حوالې

(1) جالبی، جمیل، ڈاکٹر، پاکستانی کلچر، مقتدرہ قومی زبان، 1997ء، طبع ششم، ص41،42.

(2) The New Encychlopadia Britanica, 15th ed, Vol-16, 1997, P-874.

(3) عباس، محمد مدنی، پشتو زبان اور ادب کی تاریخ، مرکزی اردو بورڈ لاہور، 1969ء، ص17.

(4) Asar, Adrees, Pakhtoonwalee, code of love and peace, Danish Book Store Peshawar, 2005.

(5) نئیر، ناصر عباس، ڈاکٹر، لسانیات اور تنقید، پورب اکیڈمی اسلام آباد، 2009ء، ص90.

(6) انشاء، میا، سهیل، ډاکټر، د پښتو پرون نن او سبا، مشموله پښتو پرون نن او سبا، (مرتبه اسیر منګل / سلیم بنګش) پښتو ادبي چمن تل، جنوري 2006ء، مخ116، 117.

(7) ایضاً، مخ125.

(8) شوق، افضل، عالمي رجحانات او پښتو ادبیات، مشموله پښتو پرون نن او سبا، مخ202، 203.